# د دموکراسی اصول

## پیژندنه

که څه هم نن سبا د نړۍ په هر ځای کې دا اصطلاح ډېره عامه ده، د دموکراسی تشریح کول یو ګران کار کیدلای شی. دا لړی لوستونکی ته په لنډه توګه یوه مقاله وړاندی کوی او بیا د دموکراتیکی حکومت کولو مشخصی برخی په ځانګړو عنوانونو ویشی. ددی لړی هره مقاله د غوره تیوریسنانو افکار او زیاتره د هغو ټولنو روشونه منعکسوی چی اوس د دموکراتیکی حکومت کولو تر سیستم لاندی وده مومی.

# دموکراسي څه ده؟

د دموکراسي اصطلاح د یوناني تورې "ډیموس" نه اخیستل شوی ده، چې معنی یې خلک دي.

که څه هم د نړۍ په بیلابیلو دموکراسیو کې لږ توپیرونه موجود دي، ځینې اصول او لارې دي چې دموکراتیک حکومت له نور ډول حکومتونو څخه را جلا کوي.

دموکراسي یو داسې حکومت دی چې په هغه کې د اتباعو واک او مسئولیت د ټولو وګړو لخوا په مستقیم ډول یا د دوی د ټاکلیو استازیو له لارې ترسره کیږي.

- دموکراسي د اصولو او لارو یوه داسې مجموعه ده چې د بشر ازادي خوندي کوي: دا د ازادۍ مؤسسه جوړوي.

- دموکراسی د اکثریت د حاکمیت پر اصولو تکیه کوی، چی ورسره د فرد او اقلیتونو حقوق یو ځای وی. ټولی دموکراسی په داسی حال کی چی د اکثریت د ارادی درنښت کوی، په مینه او ذوق د اقلیتی ډلو او افرادو بنسټیز حقوق خوندی ساتی.
- دموکراسی د ټولو ځواکمنو مرکزی حکومتونو پرضد ده، او د مرکزی حکومت پر محلی او سیمه یزه سطحه ویشی، په دی پوهی سره چی سیمه یز حکومت باید د امکان تر اندازی پوری د ولس د لاسرسی وړ او ځواب ویونکی وی.
- دموکراسی په دی پوهیږی چی د هغی د لومړنیو دندو له جملی څخه یوه دنده دا ده چی هغه بنسټیز حقوق لکه د

مذهب او وینا ازادي، له قانون سره سم د مساوي خونديتوب حق، او د سازماندهی او د ټولنی په سياسی، اقتصادي او کلتوري ژوند کی د پوره برخی اخيستلو فرصت خوندي کړي.

- دموکراسی په منظم ډول ازاد او منصفانه انتخابات کوي، چی د ټولو اتباعو پرمخ خلاص وي. په دموکراسی کی انتخابات نمايشی بنه نشی لرلی چی د دکتاتوران او يا يو ګوند یی ترشا پټ شی، بلکی د خلکو د ملاتړ لپاره يوه سمه او مناسبه سيالی ده.
- دموکراسی حکومتونه د قانون په حاکميت پوري مشروط بولی او ډاډ ورکوي چی په ټول وګړي بايد له قانون سره سم له برابري ساتنی څخه برخمن وي او هم دا چی د هغوي حقوق د يو

قانونی سیستم  له لاری خوندی ساتل کیږی.

- دموکراسی راز راز بڼې لری چې د هر ملت خپل ځانګړی سیاسی، ټولنیز او کلتوری ژوند منعکس وی. دموکراسی پر بنیادی اصولو تکیه کوی، نه پر یو شان روشونو او لارو چارو.
- په دموکراسی کی وګړی نه یواځې دا چې حقوق لری، بلکه مسؤلیت لری چې په سیاسی نظام کی ګډون وکړی چې دا پخپل وار ددوی حقوق او ازادی خوندی کوی.
- دموکراتیکی ټولنی د زغم، همکاری او تیریدنی (مصلحت) د ارزښتونو ژمنه کوی. دموکراسی دا منی چې موافقی ته رسیدل تیریدنی ته اړتیا لری او دا هر وخت په لاس

**نه راځي. د مهاتما ګاندي په وينا "زغم نه کول پخپله د تشدد يو شکل دی او د رښتيني دموکراتيکي روحيې د ودې په لار کې يو خنډ دی."**

# د اکثریت حاکمیت او د اقلیتونو حقوق

په ښکاره ډول، د اکثریت حاکمیت او د اقلیتونو او افرادو حقوقو د ساتلو اصول له یو بل سره متضاد ښکاري، خو په حقیقت کې دغه اصول د دموکراسی غبرګونې ستنې دي چې د هغه څه بنسټ جوړوي چې زمونږ په نزد د دموکراتیک حکومت معنی لري.

- د اکثریت حکومت، د حکومت د جوړولو او د عامه مسائلو د حل لپاره یوه وسیله ده; دا د ظلم او زورزیاتی په لور بله لاره نده. لکه څرنګه چې هیڅ ټاکل شوی ډله ددی حق نه لري چې پر نورو ظلم وکړي، نو په دی ډول هیڅ اکثریت، حتی که په یوه دموکراسی کې هم وي، حق نلري د یوه

اقلیت یا فرد اساسی حقوق او ازادی سلب کړی.

- اقلیتونه د نژادی پس منظر، مذهبی عقیدی، جغرافیائی موقعیت، د عاید د اندازی له پلوه یا په ساده ډول په انتخاباتو یا سیاسی بحث کی د بایلونکو په حیث د بشر له هغو اساسی حقوقو څخه برخه من دی چی هیڅ ټاکل شوی یا نه ټاکل شوی اکثریت یا حکومت یی باید له مینځه یونسی.
- اقلیتونه دی ته اړتیا لری په حکومت باور وکړی چی ددوی حقوق او هویت وساتی، کله چی دا کار ترسره شی، دغه ډلی کولای شی د دوی د هیواد په دموکراتیکو مؤسسو کی برخه واخلی او ورسره مرسته وکړی.
- د بشر د اساسی حقوقو له جملی څخه چی هر دموکراتیک حکومت د هغو پر خوندی

کولو مکلف دی، د بیان او نظر ازادی; د دین او عقیدی ازادی; د قانون په وړاندی د برابر خوندیتوب او ښه سلوک، او د سازماندهی، وینا، د نظر اختلاف، او د خپلی ټولنی په عامه ژوند کی د پوره برخی اخیستلو ازادی ده.

- دموکراسی پدی پوهیږی چی د کلتوری هویت ټولنیز روشونه، ځانګړی وجدان او د دینی فعالیتونو د خوندی کولو لپاره د اقلیتونو دحقوقو ساتل ددوی له لومړنیو دندو څخه دی.

- د نژادی او کلتوری ډلو، چی د اکثریت لپاره که پردی نه وی عجیب ښکاری، منل یوه له هغو سترو ستونزو څخه ده چی یو دموکراتیک حکومت ورسره مخامخ کیدلی شی. دموکراسی دا منی چی توپیر یوه لویه شتمنی ده. دوی د هویت، کلتور او ارزښتونو

توپیرونه یو ګواښ نه، بلکه یو چلنج ګڼي چې هڅوي بډای او پیاوړی کوي.

- دا چې د اقلیتونو د ډلو د نظریاتو او ارزښتونو اختلافات څرنګه حل کیدای شي کوم ځانګړي ځواب نلري. یوازې دا ډاډمنه یوهه چې یوازې د زغم، بحث او تیریدنې (مصلحت) او د غوښتنې د دموکراتیکې پروسې له لارې ازادې ټولنې کولای شي هڅو موافقو ته ورسیږي چې د اکثریت حاکمیت او د اقلیت د حقوقو غبرګونې ستنې منې.

## د ملکي چارواکو او پوځي ځواکونو اړیکي

جګړه او سوله هغه ستر مسایل دي چې هر ملت ورسره مخامخ کیدلای شي. د کړکیچ او بحران په وخت کې، ډیر ملتونه خپل پوځ ته د مشرتابه لپاره مراجعه کوي. نه چې په دموکراسیو کې.

په دموکراسي کې د جګړې او سولې مسایل یا د ملي امنیت لپاره نور ګواښونه تر ټولو مهمې مسٔلې دي چې یو ملت ورسره مخامخ وي، نو باید د خلکو له خوا ددوی د ټاکلیو استازیو په واسطه حل شي. یو دموکراتیک پوځ د قوم خدمت کوي، نه چې مشري یې وکړي. پوځي مشران ټاکلیو مشرانو ته مشورې ورکوي او د هغوی پریکړې پرمخ بیایي. یواځې هغه کسان چې د خلکو لخوا ټاکل شوي وي دا واک لري چې د یو ملت برخلیک وټاکي.

نو پر پوځ د ولس واک او کنټرول د دموکراسی اساسی ټکی دی.

- ملکی وګړی دی ته اړتیا لری چی د نظامی ځواکونو لارښوونه وکړی او د ولس د دفاعی مسئلو په هکله پریکړی وکړی. دا پدی معنی نه ده چی دوی له پوځی وګړو نه ډیر مسلکی دی، مګر دا چی دوی د اولس استازی دی او پدی ډول دوی ته ددغو پریکړو کولو مسؤلیتونه ورسپارل کیږی. او دوی هغوی ته مسؤل ګڼل کیږی.
- په دموکراسی کی پوځ د ملت او ولس د ازادیو د خوندی کولو دنده لری. هغه د هیڅ یو سیاسی نظر یا نژادی او ټولنیزو ډلو استازیتوب او ملاتړ نکوی. هغه د خپل ملت د سترو ارمانونو، د قانون د حاکمیت او پخپله د دموکراسی اصولو ته وفادار وی.

- ولسی ځارنه دا ډاډمنوي چې د یو هیواد ارزښتونه، مؤسسې او پالیسي د پوځ پرځای د خلکو ازادي غوښتنې دي. د پوځ موخه د ټولنې دفاع ده، نه دا چې تعریف یې کړي.
- هر دموکراتیک حکومت د پریکړو په اړوند د ملي امنیت او دفاعي پالیسي په هکله د پوځي مشرانو مشورې او مهارت ته ارزښت ورکوي. ملکي مامورین پداسې چارو کې د مسلکي مشورې لپاره او د حکومت د پریکړو د عملي کولو لپاره پر پوځ تکیه کوي. مګر یواځې ټاکل شوې ملکي مشران باید د پالیسي په هکله خپلې وروستۍ پریکړې وکړي، چې پوځ یې بیا په خپله ساحه کې تطبیقوي.
- پوځي افراد، بې له شکه، د خپل هیواد په سیاسي ژوند کې د نورو وګړو په څیر په برابره او بشپړه توګه برخه اخیستلای شي –

خو یوائحی د یو ځانګړی رای ورکوونکی په حیث. پوځی کسان په سیاست کی له شاملیدو نه مخکی لومړی باید له پوځی خدمت نه تقاعد وکړی، پوځی خدمات باید له سیاست نه بیل وساتل شی. پوځ د هیواد نا پیلیی خدمتګاران او د ټولنی ساتونکی دی.

- په پای کی، د ولس لخوا د پوځ کنټرول دا باوری کوی چی د دفاع او د ملی امنیت مسٔلی د اکثریت حاکمیت، د اقلیت حقوق او د مذهب، وینا او د مناسب چلند اساسی دموکراتیک ارزښتونه له پامه نه غورځوی. دا د ټولو سیاسی مشرانو مسٔولیت دی چی ملکی کنټرول عملی او د پوځ دا مسٔولیت تأمین کړی چی د ملکی چارواکو قانونی حکمونه ومنی.

# سیاسی ګوندونه

د فردی حقوقو او ازادیو د ساتنی لپاره باید دموکراتیک خلک په ګډه کار وکړی چی د خپلی خوښی حکومت جوړ کړی. او ددی کار سرته رسولو لپاره غوره لاره د سیاسی ګوندونو له لاری کیدلای شی.

- سیاسی ګوندونه رضاکاری مؤسسی (تنظیمونه) دی چی خلک او حکومت سره نښلوی. ګوندونه کاندیدان استخداموی او په عامه حکومتی پوستونو کی ددوی د ټاکل کیدو لپاره مبارزه کوی او خلک هڅوی چی د حکومتی مشرانو په ټاکلو کی ګډون وکړی.
- د اکثریت ګوند (یا هغه ګوند چی د حکومتی ادارو دکنټرول لپاره ټاکل شوی وی) هڅه کوی چی د یو شمیر پالیسیو او پروګرامونو

لپاره قوانین وضعه کړی. مخالف ګوندونه ازاد دی چی د اکثریت ګوند پر مفکوری نیوکی وکړی او خپل وړاندیزونه وړاندی کړی.

- سیاسی ګوندونه د خلکو لپاره یوه لار برابروی چی د ګوند ټاکل شوي مامورین په حکومت کی د خپلو کړو وړو لپاره مسئول وګنی.
- دموکراتیک سیاسی ګوندونه د دموکراسی پر اصولو باور لری او د همدی له کبله د ټاکلی حکومت صلاحیت په رسمیت پیژنی او د هغه درنښت کوی. ان که ددوی د ګوند مشران په قدرت کی هم نه وی.
- د هری دموکراسی په خیر، د بیلابیلو سیاسی ګوندونو غړی هغه ډول ډول کلتورونه ، چی دوی پکی لوی شوی وی ، منعکسوی. د

هغوی ځینی کوچنی وی او د سیاسی عقیدی په چاپیریال کی یی وده کړی وی. نور د اقتصادی ګټو په شاوخوا کی یا ګډ تاریخ په چاپیریال کی راغونډ شوی وی. همداراز نور یی تر اوسه پوری د بیلابیلو اوسیدونکو کمزوري اتحادونه وی چی یواځی د انتخاباتو په وخت کی له یو بل سره یوځای کیږی.

- ټول دموکراتیک سیاسی ګوندونه، که واړه غورځنګونه یا لوی ملی اتحادونه وی، د زغم او تیریدنی ګډ ارزښتونه لری. دوی پوهیږی چی دوی یواځی له پراخو اتحادونو او له نورو مؤسسو او سیاسی ګوندونو د همکاری له لاری کولای شی یو داسی قیادت او عام بصیرت رامینځ ته کړی چی د خلکو مرسته به لاس ته راوری.

- دموکراتیک ګوندونه دا منی چی سیاسی نظریات یی اوبان (مایع) او بدلیدونکی دی، او د رایو بشپړ توافق همیشه زیاتره د سوله ییز، ازاد او عام بحث له لاری د عقیدو او ارزښتونو د ټکر په نتیجه کی راولاړیږی.
- د یو وفادار او صادق اپوزیسیون مفکوره د هری دموکراسی لپاره مرکزی حیثیت لری. دا پدی معنی چي په سیاسی بحث کی، ټول اړخونه که څه هم ژور اختلافات لری، د بیان او عقیدی د ازادی او تر قانون لاندی د مساوی خوندیتوب ګډ اساسی دموکراتیک ارزښتونه لری. هغه ګوندونه چی انتخابات وبایلی ، نو هغوي د اپوزیسیون رول لوبوی. دوی ډاډه وی چی سیاسی نظام به ددوی د سازماندهی حق خوندی وساتی. یو وخت به ددوی ګوند دا چانس ترلاسه کړی چی د

خپلو مفکورو او خلکو د رای لپاره بیا مبارزه وکړی.

- په دموکراسی کی، د سیاسی ګوندونو ترمینځ مبارزه د ژوندی پاتی کیدو لپاره جګړه نه ده، بلکه د خلکو د خدمت لپاره یوه سیالی ده.

## د اتباعو مسؤلیتونه

دموکراتیک حکومت د دیکتاتوری پرخلاف د خلکو خدمت کوی، خو خلک دي هم باید په دموکراسی کی د هغو قوانینو او مکلفیتونو درنښت وکړی چی د هغوی په واسطه دوی اداره کیږی. دموکراسی خپلو اتباعو ته ډیری ازادی ورکوی چی پکی د مخالفت کولو او پر حکومت د نیوکی کولو ازادی شامله ده.

په یوی دموکراسی کی اتباع برخه اخیستنی، ادابو او ان دا چي زغم ته اړتیا لری.

- دموکراتیک وګړی دا منی چی دوی نه یوائې حقوق لری، بلکه مسؤلیتونه هم لری. دوی منی چی دموکراسی د وخت او زیار پانګه اچونی ته اړتیا لری. د خلکو حکومت

د خلکو په واسطه تل دوامداره څارنی او مرستی ته اړتیا لری.

- تر څینو دموکراتیکو حکومتونو لاندی، د اتباعو برخه اخیستنه د امعنی لری چی وګړی باید په قضاوت کوونکی هیئت کی خدمت وکړی، یا د څه مودی لپاره جبری عسکری خدمت وکړی، یا د ملت په ملکی خدمت کی برخه واخلی. نور مکلفیتونه په ټولو دموکراسیو کی د تطبیق وړ او د وګړی پواځینی مسئولیت دی ،چی په هغو کی تر ټولو غوره د قانون درنښت دی. د خپلی ونډی درسته مالیه ورکول، د ټاکلی حکومت د واک منل او د هغو د حقوقو درنښت چی مخالف نظرونه لری هم د وګړو د مسئولیت مثالونه دی.

- دموکراتیک وګړی پوهیږی چی که چیری دوی د خپلو حقوقو له ساتلو څخه ګټه

اخیستل غواړی، نو باید د خپلی ټولنی بار پر غاړه واخلی.

- په ازادو ټولنو کی یو متل دی چی وایی: تاسو هغه حکومت ترلاسه کوی چی تاسو یی مستحق یاست. د دموکراسی د بریالیتوب لپاره وګړی باید فعال وی نه غیر فعال، ځکه چی دوی پوهیږی چی د یو حکومت بریالیتوب او نه بریالیتوب ددوی مسؤلیت دی. نه د نورو. په خپل وار، حکومتی چارواکی پوهیږی چی د ټولو وګړیو سره دی یو شان چلند وشی او دا چی په دموکراتیک حکومت کی د بډو او رشوت لپاره هیڅ ځای نشته.

- که په یو دموکراتیک نظام کی خلک د له خپلو مشرانوخواشینی وی نو ازاد دی چی سازمانو نه جوړکړی او په سوله ییزه توګه د بدلون لپاره مبارزه وکړی – یا هڅه وکړی

چې د انتخاباتو لپاره په ټاکل شویو وختونو کې د رایې په نه ورکولو نوموړې مشران له قدرت څخه لیرې کړي.

- دموکراسی د روغ رمټ پاتې کیدني لپاره د خپلو وګړو ضمنې رایو ته اړتیا لري. دوی د خپلو زیات شمیر وګړیو پرله پسې پاملرنی، وخت او ژمنې ته اړتیا لري ،چې هغوی په خپل وار له حکومت نه غواړي چې ددوی حقوق او ازادی خوندی کړي.
- په یوی دموکراسی کی وګړی په سیاسی ګوندونو کی ګډون کوی او د خپلی خوښی کاندیدانو لپاره هلی ځلی کوی. هغوی دا حقیقت منی چې ددوی ګوند ښایي د همیش لپاره په واک کې نه وي.

- دوی ازاد دی چې ځان کاندید کړي یا د څه وخت لپاره د رسمي ټاکلیو مامورینو په توګه خدمت وکړي.

- هغوی له ازادو مطبوعاتو نه استفاده کوی چې د ملي او سیمه ییزو مسایلو په هکله خپل نظر څرګند کړي.

- دوی له کار ګري اتحادیو، ټولنیزو ډلو او د سودا ګری له ټولنو سره یو ځای کیږي.

- دوی له هغو خصوصي رضاکارو مؤسسو سره یو ځای کیږي چې ورسره ګډې ګټې لري، که څه هم هغوی خپل ځانونه دین، اقلیتي کلتور، علمي څیړنو، لوبو، هنرونو، ادبیاتو، د ګاونډیتوب ښه والي، یا د نړیوالي زده کوونکو تبادلو یا په

سلهاو نور راز راز فعالیتونو ترسره کولو ته وقف کړی وی.

- دا ټولی ډلی، بی له دی نه چی دوی شومره لیری یا نژدی دی، د خپلی دموکراسی له ودی او روغتیا سره مرسته کوی.

# ازاد مطبوعات

په دموکراسی کی مطبوعات باید د حکومت له څارنی څخه ازادانه فعالیت وکړی. دموکراتیک حکومتونه د اطلاعاتو وزارتونه نلری چی د ورځپاڼو مواد او یا د ژورنالیستانو فعالیتونه کنټرول کړی، یا هغه اړتیاوی چی ژورنالستان باید د دولت لخوا ازمیښت شی، یا ژورنالستان ته دي اړ کړ ل شي چی د حکومت تر څارنی لاندی له اتحادیو سره یوځای شی.

- ازاد مطبوعات خلک خبروی، مشران مسؤل ګنی او د محلی او ملی مسٔلو لپاره د بحث زمینه برابروی.
- دموکراسی د ازادو مطبوعاتو شتوالی ته وده ورکوی. یو خپلواکه قضائیه قوه، مدنی ټولنه چی د قانون واکمنی ولری او د وینا ازادی

ټول د ازادو مطبوعاتو ملاتړ کوي. ازاد مطبوعات باید قانوني مصؤنیت ولري.

- په دموکراسي کې حکومت د خپلو فعالیتونو مسؤل وي. نو اتباع هیله لري چې له هغو پریکړو څخه خبر شي چې حکومت یې ددوی په استازیتوب کوي. مطبوعات پر حکومت د څارنې له لارې، له خلکو سره د مرستې له لارې چې حکومت مسؤل وګڼي او د هغه د کړن لارو په اړه د پوښتنې له لارې د خبرتیا حق اسانوي. دموکراتیک حکومتونه عمومي غونډو او سندونو ته د ژورنالستانو د لاس رسي لاره هواروي. هغوی ته ترمخکې محدودیتونه نه وضعه کوي چې ژورنالستان څه ویلې یا چاپولې شي.
- مطبوعات په خپله هم باید مسؤلانه عمل وکړي. د مسلکي ټولنو، ازادو مطبوعاتي شورا ګانو، او د محتسبینو (کورنې کره کتونکې

چې عام شکایتونه اوری) له لاری مطبوعات د خپلو تیریو په باب شکایتونو ته ځواب وایی او پخپله دننه مسؤل پاتی کیږی.

- دموکراسی له ولس نه غواری چې ټاکنی او پریکړی وکړی. ددی لپاره چې خلک پر مطبوعاتو باور وکړی ، ژورنالستان باید د باوری منابعو او معلوماتو له لاری رښتینی خبرونه برابر کړی. د نورو د افکارو غلا او ناسم اطلاعات په ازادو مطبوعاتو ناوړه اغیزه کوی.
- ددی لپاره چې د خبرونو راغونډوول او خپرول د سرمقالی له پروسو څخه جلا کړل شی، مطبوعاتی اداری باید یو خپل مدیره هیئت چې له حکومتی څارنی نه ازاد وی جوړ کړی.

- ژورنالستان باید د رای عامه تر اغیزی لاندی نه، بلکه څومره چی دوی کولای شي یوازی د حقایقو په لټه کی وی. دموکراسی مطبوعاتو ته اجازه ورکوی چی د حکومت له ویری یا ملاتړ نه پرته د خبرونو راغونډولو او خپرولو په باب خپله دنده سرته ورسوی.
- دموکراسی د دوو حقوقو ترمنځ یوی نه ختمیدونکی مبارزی ته وده ورکوی: د حکومت مکلفیت چی ملی امنیت وساتی ،او د خلکو حق چی وپوهیږی ،چی دا کار معلوماتو ته د ژورنالستانو د دسترسی د وړتیا پربنسټ ولاړ دی. حکومتونه کله نا کله اړ کیږی چی معلوماتو ته د ژورنالستانو داسی لاس رسی محدوده کړی چی د عامه خپرولو لپاره زیاد حساس ګڼل کیږی. خو په دموکراسی کی ژورنالستان په بشپړه توګه ددغه ډول معلوماتو د راغونډولو حق لری.

# فدرالیزم

کله چې د ازادو خلکو بیلابیلې ډلې، چې ډول ډول ژبې، مذهبي عقیدې، یا کلتوري معیارونه لري، وغواړي د یو منل شوي اساسي قانون په چوکاټ کې ژوند وکړي، دوی یو اندازه سیمه ییزې خپلواکۍ او د برابرو اقتصادي او ټولنیزو فرصتونو غوښتنه کوي. د یو فدرالي سیستم حکومت – چې په هغه کې ځواک پر محلي سیمه ییز او ملي کچه ویشل کېږي – ټاکل شویو مامورینو ته واک ورکوي چې د محلي او سیمه ییزو اړتیاوو لپاره تګلارې طرح او اداره کړي. دوی له ملي حکومت او له یو بل سره په ګډه کار کوي چې هغه ملي ستونزې چې ملت ورسره مخامخ دی له منځه یوسي.

- فدرالیزم په ازاده توګه ټاکل شویو د دوو یا زیاتو حکومتونو ترمنځ د ګډ قدرت او تصمیم نیونې یو سیستم دی چې پر یو ډول خلکو او

جغرافیاوی سیمه واک لری. دا هلته چی نتایجو ته بیړنی اړتیا لیدل کیږی په محلی ټولنو کی او همدا راز د حکومت په لوړه کچه د تصمیم نیولو وړتیا بښی او ساتی یی.

- فدرالیزم خلکو ته د حکومت مسوولیت ښیی او محلی حکومت ته د محلی قوانینو طرح کولو او اداره کولو په اجازی ورکولو سره د وګړو برخه اخیستل او مدنی مسؤلیت هڅوی.

- فدرالی سیستم د یو لیکل شوی اساسی قانون په واسطه تقویه کیږی چی خلکو ته واک ورکوی او د ویشل شوی مسؤلیتونو اړتیا په ګوته کوی چی د حکومت هره سطحه ورڅخه برخمنه وی.

- پداسی حال کی چی په عمومی توګه منل شوی ده محلی حکومتونه باید محلی

اړتیاوی پوره کړی، ځینی قضیي ملی حکومت ته پریښودل کیږی، چی دفاع، نړیوال تړونونه، فدرالی بودجه او پوستی خدمتونه یی مثالونه دی.

- محلی فرمانونه هغه لومړیتوبونه منعکسوی چی د هغو له لاری محلی خلک خپل ژوند ټاکی – پولیس، د اطفائیی ګزمی، د ښوونځیو اداره او د محلی روغتیا د ودانیو کړن لاری زیاتره په محلی سطحه طرحه او عملی کیږی.
- د حکومت دننه اړیکی دا معنی لری چی په یوه فدرالی دولت کی راز راز حکومتونه (ملی، سیمه یز او محلی) هغه وخت کار کوی کله چی قانونی واک دا ایجاب کړی چی مسئلی په همکاری سره حل شی. ملی حکومت زیاتره واک لری چی د سیمو ترمینځ په شخړو کی مینځګړتوب وکړی.

- له جغرافیایي پلوه ستر او له اقتصادي پلوه په رنګارنګ ملت کې د سیمو ترمینځ په عاید او ټولنیزي سوکالي کې توپیرونه د ملي حکومت په واسطه د هغو پالیسیو له لارې حل کیدای شي چې د مالیې عاید بیا ویشي.
- یو فدېرالي سیستم ځواب ورکوونکی او مشمول وي. اوسیدونکې ازاد وي چې د حکومتي پوستونو لپاره ځانونه کاندید کړي. محلي او سیمه ییز حکومتونه پخپلو ټولنو کې د یو بدلون راوستلو لپاره زیاتره پوستونه وړاندې کوي او ښایي خوړا ډیر فرصتونه وړاندې کړي.
- فدرالیزم د سیاسي ګوندونو لپاره خوړا زیات فرصتونه برابروي چې خپلو حوزو ته خدمت وکړي. حتی که یو خاص ګوند په مقننه یا اجرائیه قوه کې اکثریت هم ونلري، اجازه

**لری چی په سیمه ییزه او محلی سطحه برخه واخلی.**

## د قانون واکمني

د بشر د تاریخ په زیاتره پوړیو کې، واکمنان او قانون له یو بل سره مترادف وو. قانون یواځې د واکمن اراده وه. له دغه استبداد څخه لیرې لومړی ګام د قانون دحاکمیت پوهه وه چې په هغه کې دا خبرتیا هم موجوده وه چې ان یو واکمن د قانون تابع وي او د قانوني طریقو له لارې باید حکومت وکړي. د قانون د واکمنۍ په مینځ راتلو سره دموکراسي پرمخ ولاړه. که څه هم هیڅ ټولنه یا حکومتي سیستم له ستونزو خلاص نه وي. د قانون واکمني اساسي سیاسي، ټولنیز او اقتصادي حقونه خوندي کوي او مونږ ته یادونه کوي چې استبداد او بې قانوني یواځیني نوري لارې ندي.

- د قانون واکمنی پدی معنی ده چې هیڅ وګړی، ولس مشر یا تبعه له قانون څخه لوړ

ندی. دموکراتیک حکومتونه خپل واک د قانون له لاری سرته رسوی. او پخپله مکلف دی چی قانونی محدودیتونه مراعات کړی.

- قوانین باید د خلکو اراده څرګنده کړی، نه د پاچایانو، دکتاتورانو، پوځی مامورینو، دینی مشرانو، یا د ټاکلیو سیاسی ګوندونو هوس او غوښتني.
- په دموکراسی کی اوسیدونکی غواړی د خپلی ټولنی قوانین ومنی، ځکه چی دوی خپل ځانونه خپلو مقرراتو او قواعدو ته تسلیموی. عدالت هغه وخت په ښه توګه لاس ته راتلای شی کله چی قوانین د هغو خلکو په واسطه مینځ ته راشی چی هغوی یی باید ومنی.
- د قانون تر واکمنی لاندی د غښتلو او ناپیلو محکمو سیستم باید هغه ځواک او واک، منابع

او حیثیت ولری چی حکومتی مامورین، ان
داچي لوړ پوړی مشران، د ملی قوانیونو او
مقرراتو په وړاندی مسؤل وګنی.

- همدا دلیل دی چی قاضیان باید ښه روزل شوی، مسلکی، ناپیلی او بی پری وی. ددی لپاره چی په قضائی او سیاسی سیستم کی ضروری رول ولوبوی، قاضیان بایدد دموکراسی اصولو ته ژمنه ولری.

- د دموکراسی قوانین ښایی ډیری سرچینی ولری: لیکل شوی اساسی قانونو نه، اساسنامی او مقررات، اخلاقی او مذهبی زده کړی، او کلتوری عنعنات او رواجونه. بی له دی چی اصل یی په پام ونیول شی، قانون باید ټاکلی شرطونه خوندی کړی ،ترڅو د وګړو حقونه او ازادی وساتی:

- د قانون لاندې د برابرې ساتنې د غوښتنې له مخې، کېدای شي قانون پر يو کس يا ډلې د تطبيق وړ نه وي.

- اوسيدونکي بايد له استبدادي نيونې او ددوی د کورونو د بې دليله لټون او يا د هغوی د شخصي شتمنيو د ضبطولو نه خوندي وي.

- په جرمونو تورن اوسيدونکي د يو عامي محاکمې حق لري او دا فرصت لري چې له مدعی عليه سره مخامخ او له هغه څخه پوښتنه وکړي. که دوی په جزا محکومېږي، دوی بايد تر ظالمانه او غير عادي جزا لاندې و نه نيول شي.

- اوسيدونکي د خپل ځان پرضد د شهادت په ورکولو نه شي اړکيدلای. دغه اصول اتباع له جبر، ناوړه چلند يا شکنجې

**څخه ساتی او د پولیس دا هڅونه کموی چی له دغو اقداماتو څخه استفاده وکړی.**

# بشری حقونه

ټول انسانان له نه بیلیدونکو حقوقو سره پیدا شوی دی. دغه بشری حقوق خلک غښتلی کوی چی با وقاره ژوند وکړی، نو هیڅ حکومت یی ورکولی نه شی، خو ټول حکومتونه یی باید خوندی وساتی. ازادی، چی د عدالت، زغم، وقار او درنښت پر بنسټ جوړه شویده، بی له دی نه چی د نژاد، مذهب، سیاسی ټولنی یا ټولنیز موقف نه پرته، خلکو ته اجازه ورکوی چی دغه اساسی حقوق تعقیب کړی. پداسی حال کی چی دیکتاتوری بشری حقوق نه ورکوی، ازادی ټولنی په پرله پسی ډول زیار باسی چی هغه لاس ته راوړی.

بشری حقونه یو په بل پوری تړلی او نه بیلیدونکی دی، دا د ټولنیزو، سیاسی او اقتصادی

مسئلو په ګډون بې شمیره بڼې احتوا کوي. تر ټولو ډېر منل شوي یې دا دي:

- ټول خلک باید حق ولري چې خپل نظریات ولري او په سوله ایزو غونډو کې یې په ځانګړې ډول تشریح کړي. ازادي ټولنې د "مفکورو بازار" جوړوي چې خلک پکې د یو شمر قضیو په اړه خپل نظریات تبادله کوي.
- ټول خلک باید په حکومت کې د برخې اخیستلو حق ولري. حکومتونه باید قوانین ایجاد کړي چې بشري حقونه خوندي کړي، پداسې حال کې چې قضایي سیستم د خلکو ترمینځ دغه قوانین په برابر ډول اجرا کوي.
- له استبدادي بند، توقیف او شکنجې څخه خلاصون – که څوک د واکمن سیاسي ګوند یو مخالف، نژادي اقلیت یا ان که عام مجرم وي – یو اساسي بشري حق دی. یوه مسلکي

پولیسی قوه په ولس کی د قوانینو د عملی کولو پروخت د ټولو وګړو درنښت کوی.

- په نژادی لحاظ په بیلا بیلو ملتونو کی، مذهبی او نژادی اقلیتونه باید ازاد وی چی خپله ژبه وکاروی او د اکثریت نفوس له ویری پرته خپل دود او دستور وساتی. حکومتونه پداسی حال کی چی د اکثریت د ازادی درنښت کوی، باید د اقلیتونو حقونه ومنی.
- ټول خلک باید ددی فرصت ولری چی کار وکړی، عاید لاس ته راوړی او د له خپلو کورنیو سره مرسته وکړی.
- کوچنیان د ځانګړی ساتنی وړ دی. دوی باید لږ تر لږه لومړنی زده کړی، مناسب خواړه او روغتیائی پاملرنه ترلاسه کړی.
- ددی لپاره چی بشری حقوق وساتل شی ،د هری ازادی ټولنی اوسیدونکی باید بیدار

دولت واوسی. د بیلابیلو ګډو فعالیتونو له لاری د اتباعو مسئولت دا خبره باوری کوی چی حکومت د خلکو په وړاندی مسوولیت لری. د ازادو ملتونو کورنی ژمنه لری چی د بشری حقوقو د ساتلو په لور کار وکړی. دوی خپلو ژمنو ته د بشری حقوقو د یو شمیر نړیوالو تړونو او موافقو له لاری رسمی بڼه ورکړی.

## اجرائیوی ځواک

د دموکراتیکو حکومتونو مشران د خپل ولس په خوښه حکومت کوی. دغه ډول مشران له دی امله ځواکمن نه وی چی دوی د پوځ کنټرول یا اقتصادی شتمنی لری، بلکه لدی امله غښتلی دی چی دوی د هغو محدودیتونو چی د ازادو او عادلانه ټول ټاکنو له لاری ددوی پر غاړه ایښودل شوی، درنښت کوی.

- د ازادو ټول ټاکنو له لاری، دموکرات ولسونه خپلو مشرانو ته هغه واک ورکوی چی د قانون لخوا ټاکل کیږی. په یوی قانونی دموکراسی کی ځواک ویشل کیږی ، یعني مقننه قوي قوانین جوړوی، اجرائیه قوه یی نافذ او عملی کوی او قضائیه قوه په ازادنه ډول فعالیت کوی.

- دموکراتیک مشران نه ټاکل شوی دکتاتوران دی او نه "عمری رئیسان." دوی د ټاکلی وخت لپاره خپلی دندی سرته رسوی او د ازادو ټول ټاکنو پایلی منی، که څه هم د حکومت د کنټرول له لاسه ورکولو معنی هم ولری.

- په قانونی دموکراسی کی، اجرائیوی واک په عمومي ډول په دریو طریقو محدودیږی: د څارنی او موازینی د یو سیستم پواسطه چی د ملی حکومت اجرائیوی، قانونی او قضائی ځواکونه سره جلا کوی، د فدرالیزم په واسطه چی د ملی حکومت او ایالتی-محلی حکومتونو ترمینځ ځواک ویشی، او د بنسټیزو حقوقو د قانونی تضمین پواسطه.

- په ملی سطح، اجرائیوی ځواک د هغه قانونی صلاحیت په واسطه محدودیږی چی

د قضائی څانګې او ازادی قضائی قوی لخوا تاکل کیږي.

- اجرائیوی ځواک په مؤثرو دموکراسیو کې په عمومي ډول په یوی یا دوو لارو تنظیمیږي: د پارلمانی یا ریاستی سیستم په شان.

- په پارلمانی سیستم کی، په مقننه کی د اکثریت ګوند د حکومت اجرائیوی څانګه تشکیلوی چی د صدر اعظم تر مشری لاندی کار کوی.

- په پارلمانی سیستم کی مقننه او اجرائیوی څانګې یو له بله بشپړ توپیر نلري، ځکه چی صدراعظم او د کابینی غړی له پارلمان څخه اخیستل کیږي. پدغه سیستم کی سیاسی اپوزیسیون داجرائیوی قانون د واک د محدودولو یا څارلو د ستری وسیلی په توګه کار کوی.

- په رياستي سيستم کې ولس مشر له مقننه قوې له غړونه جلا ټاکل کيږي.

په رياستي سيستم کې، دواړه ولس مشر او مقننه قوه دخپل قدرت ځواک مرکزونه او سياسي حوزې لري ،چې د يو بل څارنه او موازنه کوي.

- دموکراسي نه غواړي چې حکومتونه يې کمزوي وي، يوازې يې محدودوي. په پای کې، دموکراسي بنايي د ملي مسئلو په اړوند موافقې ته په رسيدو کې سسته وي، خو کله چې دا دغه کار کوي نو مشران يې په پوره ځواک او ډاډ عمل کولی شي.

- په ټولو وختونو کې، په قانونمندې دموکراسي کې مشران د قانون د حاکميت دننه کار کوي چې ددوی واک ټاکلی او محدودوی يې.

## مقننه قوه

په دموکراسی کی ټاکلی استازی – که د پارلمان، اسامبلی یا کانګرس غړی وی – د خلکو خدمت کوی. دوی یو شمیر دندی ترسره کوی چی د یو سالمی دموکراسی لپاره ضروری وی.

- په یوه نماینده دموکراسی کی ټاکل شوی مقننه قوه د غور، بحث او قوانینو تصویبولو لپاره یو ستر جرګه ځای دی. دوی تش په نوم ګوډاګی پارلمانونه نه دي چی یوازی د یو مطلق العنان مشر پریکړی تصویبوی.
- د پلټنی او د څیړنی صلاحیتونه قانون جوړونکو ته دا اجازه ورکوی چی له حکومتی مامورینو نه په علنی ډول د هغوی د کارونو او پریکړو په هکله پوښتنی وکړی یا ددی یر ځای د بیلابیلو حکومتی وزارتونو

قدرت وځاری، په تیره بیا په ریاستی حکومتی سیستم کی چی مقننه قوه له اجرائیه قوی څخه جلا وی.

- قانون جوړونکی کولای شی ملی بودیجه تصویب کړی، په ضروری مسایلو بحث وکړی او په محکمو او وزارتونو کی اجرائیوی ټاکنی تائید کړی. په ځینو دموکراسیو کی قانون جوړونکی کمیټه قانون جوړونکو ته ددغو ملی مسألو د عامه کتلو لپاره جرګه ځای برابروی.
- قانون جوړونکی کولای شی له واکمن حکومت سره مرسته وکړی او یا د یو وفادار سیاسی اپوزیسیون په توګه خدمت کولای شی چی متبادل پروګرامونه او کړنلاری وړاندی کوی.

- قانون جوړونکی مسؤلیت لری چی تر ممکنه اندازي پوری خپل نظریات په اغیزمن ډول څرګند کړی. خو دوی باید د دموکراسی د زغم، درنښت او تیریدنی د اخلاقو په چوکاټ کی کار وکړی او هغو موافقو ته ورسیږی چی د ټولو خلکو عمومی سوکالی لپاره ګټور وی، نه دا چی د خپلو سیاسی پلویانو لپاره. هر قانون جوړونکی باید خپله دا پریکړه وکړی چی د عامه سوکالی لپاره د یوی محلی حوزی اړتیاوی څرنګه موازنه کړی.

- قانون جوړونکی زیاتره د وګړو انفرادی شکایتونه او مسٔلی په خوا خوږی سره اوری او د ستری حکومتی بیوروکراسی نه مرستی ترلاسه کوی. ددی کار لپاره دوی زیاتره د روزل شویو مرستیالانو عمله ساتی.

- ملی قانون جوړونکی په عمومی ټوګه په یوی یا دوو لارو ټاکل کیږی. د اکثریت په

انتخاباتو کی چی کله کله ورته "د لومړی ستنی نه تیر" ویل کیږی، د زیاتو رایو ترلاسه کوونکی کاندید بریالی کیږی. او په متناسب سیستم کی چی زیاتره په پارلمانی انتخابا تو کی کارول کیږی، رایه ورکوونکي ګوندونو ته رایه ورکوی نه افرادو ته. او استازی د ګوند د رایو د فیصدی په اساس ټاکل کیږی.

- متناسب سیستم ګڼ شمیر او کلک منظم واړه ګوندونه هڅوی. اکثریتی انتخاب یو ازاد دوه ګوندیز سیستم تشویقوی. په هرو دواړو سیستمونو کی استازی په بحث، خبرو، اتحادنو جوړولو او مصلحت اخته وی چی د دموکراسی د مقننه څانګو ځلانده اصول دی.
- مقننه زیاتره دوه جرګی لری چی د قانون جوړولو لپاره دوی خونی لری ،او نوی

**قوانين په عمومي توګه د دواړو جرګو تصويب ته اړتيا لري.**

## ناپیلی قضائیه قوه

ناپیلی او مسلکی قاضیان د عادلانه، بی پری او د قانون لخوا د تضمین شوي د هغو قانونی محکمو د سستم بنسټ جوړوی چی قضائیه قوه ورته ویل کیږی. دغه ناپییلتوب په دی معنی نه وی چی قاضیان د خپلی خوښی په اساس پریکړی وکولای شی، بلکه دا چی ازاد دی چی قانونی پریکړی وکړی، که څه هم دغه پریکړی د هغه حکومت یا ځواکمنو اړخونو پرضد هم وی چی په قضیي کی دخیل وی.

- په دموکراسیو کی، د ټاکل شویو مامورینو او مقننه قوي له سیاسی فشار څخه ازادي د قاضیانو ناپییلتوب تضمینوی. قضائی پریکړی د علاقه مندو اړخونو د محدودیتونو یا مناسب نفوذ پرته، باید بی طرفه، د قضیي د واقعیتونو د انفرادی وړتیا او قانونی دلایلو او

اړوندو دلایلو په اساس وشي. دغه اصول د ټولو لپاره مساوي قانوني خونديتوب تأمينوي.

- د قاضيانو دا صلاحيت چي عامه قوانين بيا وڅيړي او هغه د ملت له اساسي قانون څخه سرغړونکي وبولي د حکومت لخوا له قدرت څخه د ممکني ناوړي استفادي لپاره د اساسي خنډ په څير کار کوي، ان که حکومت د خلکو د اکثريت لخوا ټاکل کيږي. خو دغه ځواک ايجابوي چي محکمي بايد مستقلي وي، او وکړاي شي چي خپلي پريکړي د قانون پر بنسټ وکړي، نه د سياسي ملاحظاتو پر اساس.
- قاضيان که ټاکل شوي يا ګمارل شوي وي، بايد د قانون لخوا د تضمين شوي کار مصٶنيت او دوام ولري ،ترڅو دوی د هغو کسانو چي په قدرت کی دی د فشار او بريد د انديښني نه پرته پريکړي وکولي شي. يوه

مدني ټولنه د مناسبې روزنې او معاش په برابرولو سره د مسلکي قاضیانو ارزښت مني.

- د محاکمو د سیستم په بیطرفۍ باور – چې د حکومت د "غیر سیاسي" څانګې په څیر لیدل کیږي – د هغه د مشروعیت او ټینګښت یوه ستره منبع ده.

- خو د یو ملت محکمې، له عامه تبصرو، تدقیق او انتقاد څخه خلاصې نه وي. د بیان ازادي د هر چا حق دی: قاضیان او ددوی کره کتونکي یو شان.

- ددې لپاره چې ددې بیطرفۍ باوري کړل شي، قضائي اخلاق له قاضیانو نه غواړي چې دداسي قضیو له پریکولو نه ډډه وکړي (یا خپل ځانونه وژغوري) چې ددوی مصلحتونه پکې ټکر خوري.

- په دموکراسۍ کې قاضیان د کوچنیو شکایتونو یا د سیاسي انتقاد په ځواب کې له کاره نه شي ګوښه کېدلای. ددې پرځای، دوی په مقننه څانګه یا په یوې جلا محکمې کې د محاکمې د اوږدې او ګرانې پروسې له لارې یوازې د جدي جنایتونو یا قانون ماتولو لپاره له کاره ګوښه کېدلای شي.
- یوه مستقله قوه خلکو ته ډاډ ورکوي چې د محکمو پرېکړې به د ملت د قوانینو او اساسي قانون په اساس وي، نه د سیاسي ځواک په اړولو یا د مؤقتي اکثریت د فشار له امله. له دې استقلال بشلو سره، په دموکراسۍ کې قضایي سیستم د خلکو د حقوق او ازادیو د ساتونکي په څیر خدمت کوي.

## اساسی قانون

په یو لیکل شوی اساسی قانون کی ټول هغه مهم قوانین ځای لری چی د یوه ملت خلکو پری موافقه کړی چی دهغو په سیوری کی ژوند وکړی،او اساسی قانون د هغوی د حکومت اساسی ستنی جوړوی. پدی اساس دموکراتیک مشروطیت یا هغه اساسی قانون چی په فردی ازادی، د ټولنی حقوقو او د حکومت په محدود قدرت متکی وی د دموکراتیک حکومت چوکات جوړوی.

په اساسی قانون ولاړه ټولنه دا منی چی د یو دموکراتیک او مسؤل حکومت قدرت باید د اساسی قانون په وسیله محدود کړای شی.

یو اساسی قانون د ټولنی اساسی غوښتنی او اهداف په ګوته کوی چی په هغوی کی د خلکو عمومی هوساینه شامله ده.

تول قوانین باید د اساسی قانون مطابق ولیکل شي. په دموکراسی کی خپلواکه قضائیه قوه خلکو ته دا حق ورکوی چی د هغو قوانیو په نسبت غبرګون وښیی چی دوی فکر کوی غیر قانونی یا د اساسی قانون ضد دی. خپلواکه قضائیه همداراز خلکو ته حق ورکوی چی د حکومتی مقاماتو د غیر قانونی اقداماتو له امله د پیښو شویو زیانونو تاوان د محکمی په حکم وغواړی.

یو اساسی قانون د حکومت د واک حدود ټاکی-د هغی چوکاټ جوړوی او داسی یو سیستم جوړوی چی حکومت د هغی په وسیله له خپل صلاحیت نه کار واخلی او په راتلونکی کی نور قوانین جوړ کړی.

اساسی قانون تابعیت تشریح کوی او داسی اصول جوړوی چی معلومه کړی څوک د رای ورکولو حق لری.

اساسی قانون د یو ملک سیاسی، اداری او قضائی بنسټ جوړی چی په هغو کی د مقننه قوی او د محاکمو د جوړښت څرنګوالی، د یوی ټاکلی شوی اداری غوښتنی او د ټاکل شویو رسمی مامورینو د کار د مودی تعینول شامل دی.

یو اساسی قانون د حکومت د وزارتونو مسؤلیتونه په ګوته کوی،د مالیی د ټولولو صلاحیت ورکوی او یوه ملی دفاعی قوه جوړوی.

په یوه فدرالی سیستم کی اساسی قانون د حکومت د بیلابیلو برخو ترمینځ واک ویشی.

لدی امله چی اساسی قانون په یوه ټاکل شوی زمانی مدت کی لیکل شوی وی نو باید تعدیل ومنی ترڅو په راتلونکی کی د خلکو د بدلیدونکو اړتیاوو سره توافق ولری. لدی امله چی د راتلونکو ناڅاپی او غیر متوقعه چلنجونو سره د مقابلی په خاطر د بدلون قابلیت یو مهم عنصر وی

نو اساسي قانونو اکثراً داسې ليکل کيږي چې د حکومت عمومي اصول بيان کړي.

په اساسي قانون کې معمولاً دوه ډوله حقوق ځاى لري: منفي او مثبت حقوق.

منفي حقوق هغه وي چې حکومت ته وائي ته دا کارونه نشي کولاى. دغه حقوق د حکومت لاس نيسي او نه ئې پرېږدي هغه کارونه وکړي چې د خلکو په يو شمير کړو اغيزه کوي.

مثبت حقوق هغه دي چې حکومت ته وائي چې څه بايد وکړي او اتباعو ته وائي چې د هغوى حقوق کوم دي. پدغو حقوقو کې ښائي ټولنيز، اقتصادي او فرهنګي حقوق شامل وي چې د حکومت لخوا د بيلابيلو ټولنيزو حقوقو تضمين ورسره وي.

په همدې سلسله کې ښائي د ټولو نجونو او هلکانو لپاره د لمړنيو زده کړو ترلاسه کول تضمين

کړای شي، له تقاعد نه روسته د هغوی هوساینه یا هم د ټولو اتباعو لپاره د کار پیدا کول او د هغوی روغتیائی مراقبت تضمین شي.

## د وینا ازادی

د وینا او نظر څرګندولو ازادي، په تیره د سیاسي او نورو عامو موضوعاتو په هکله د هرې دموکراسي په بدن کې د وینې حیثیت لري. دموکراتیک حکومتونه د اکثرو لیکل شویو یا شفاهي ویناوو متنونه نه کنترولوي. پدې اساس دموکراسي معمولاً له بیلابیلو غږونو نه ډکه دي چې بیلابیل او حتی مخالف نظریات څرګندوي.

د دموکراتیکو تیوریستانو له مخې پر موضوعاتو ازاد او بې پردې بحث معمولاً د غوره انتخاب سبب کیږي او د احتمالي جدي غلطیو مخه نیول کیږي.

دموکراسي پداسې پوهو اتباعو اتکاء کوي چې د هغوی د علم او معلوماتو په مټ کولی شي څومره چې ممکنه وي په بشپړه توګه په سیاسي ژوند کې

ګډون وکړی او د حکومت په ظالمو او نا معقولو چارواکو او یا د هغوی پر پالیسیو انتقاد وکړی.
اتباع او د هغوی ټاکل شوی استازی پدی پوهیږی چی دموکراسی تر ډیره حده په ازادو نظریاتو، شمیرو او مفکورو ولاړه ده.

ددی لپاره چی په دموکراسی کی خلک وکولای شی خپل ملک اداره کړی باید په ازاده او خلاصه توګه په عام محضر کی په پرله پسی توګه خپل نظریات په شفاهی او تحریری توګه بیان کړی.

د وینا د ازادی اصل باید د دموکراسی د اساسی قانون په وسیله وساتل شی چی مقننه یا اجرائیه قوه د هغی له سانسور کولو نه منع کړی.

د وینا د ازادی ساتل په اصطلاح په منفی حقوقو کی راځی او په ښکاره له حکومت نه غواړی چی د داسی اقداماتو نه ډډه وکړی چی د بیان

ازادی محدودوی او دا د نورو په اصطلاح مثبتو حقوقو په شان نده. اکثراً یو دموکراتیک حکومت په ټولنه کې د لیکل شویو او یا شفاهي ویناوو د متنونو په برابرولو کې ځان نه دخیلوی.

مظاهري د هري دموکراسۍ ازمیښت بلل کیږي. نو لدی امله د سوله ایزو مظاهرو حق مهم دی او د وینا د ازادۍ لپاره د زمینی د برابرولو اساسی جز بلل کیږي. یوه مدني ټولنه دی ته اجازه ورکوی چې د هغو کسانو ترمینځ چې د مسائلو په اړه ژور توپیرونه لري عملي بحث وکړي.

د وینا ازادی یو اساسي حق دی خو لدی حق نه د تشدد، سپکاوی، تهمت، ورانکاری او یا کوم بد عمل لپاره کار نشی اخستل کیدای. ثابتی او په پښو ولاړی دموکراسی په عمومي توګه کلکو ګواښونو ته اړتیا لري چې د هغو ویناوو مخه ونیسي چې ښائی کړکیچ او تشدد رامینځته کړي، په غیر واقعي توګه د نور عزت ته نقصان ورسوی،

د یو قانوني حکومت د ړنګیدو باعث شي او ناکاره عملونه زیات کړي. اکثره دموکراسي هغو ویناوو ته اجازه نه ورکوي چې نژادي یا قومي تشدد رامینځته کوي. د یوې دموکراسۍ لپاره مهم چلنج دا دی چې توازن وساتي: له یوې خوا د وینا له ازادۍ نه دفاع وکړي او له بلې خوا د هغو ویناوو مخه ونیسي چې د تشدد، ګواښ او ورانکارۍ سبب ګرځي.

## د حکومت ځواب ورکول

د حکومت ځواب ورکول پدی معنی دی چی رسمی مقامات که ټاکل شوی وی یا نا ټاکل شوی مسؤلیت لری چی د خپلو فیصلو او اقداماتو په هکله خلکو ته معلومات ورکړی. کیدای شي چی د حکومت ځواب ورکول له بیلابیلو لارو سیاسی، قانونی او اداری لارو ترسره شی او هدف ئی دا وی چی د فساد مخه ونیول شی او دا خبره یقینی کړای شی چی رسمی مقامات د هغو خلکو په مقابل کی چی دوی ورته خدمت کوی ځواب ویونکی او حاضر اوسی. که داسی یو میکانیزم وجود ونلری د رشوت او فساد بازار به ګرم شی.

د احتساب او یا ځواب ورکولو لومړی سیاسی میکانیزم ازاد او عادلانه انتخابات دی. د معینو دورو لپاره د مقاماتو ټاکل کیدل دغه منتخب مامورین دی ته اړ باسی چی د خپلو کړو وړو په هکله ځواب ورکړی او مقابل لوری ته ددی زمینه

برابره کړي چې خلکو ته متبادلي پالیسي وړاندې کړي. که رای ورکونکي د یو ټاکل شوي چارواکي له کار نه خوښ نه وي نبائي کله چې ئې دوره پای ته ورسیږي د دوهم ځل لپاره ئې و نه ټاکي.

هغه څه چې رسمي مقامات په سیاسي توګه ورته ځواب ورکونکي دي هغه دا دي چې ایا دوی په یو منتخب مقام کې کار کوي یا استخدام شوي مقام کې؟ څو ځلې هغوی د بیا انتخاب کیدو اقدام کړیدی؟ او څو دوری دوی خدمت کولی شي؟

د قانوني احتساب په میکانیزم کې اساسي قانون، پارلماني اقدامات، فرمانونه، حکمونه او نور قانوني دستورونه شامل دي چې هغه اقدامات تشریح کوي چې رسمي مقامات ئې کولی او یا نشي کولای. او دا چې د یو ملک اتباع څرنګه

کولای شی د هغو رسمی مقاماتو پرضد اقدام وکړی چی کړنی ئی قناعت بښونکی نه وی.

یو ازاد قضائی سیستم د یو قانونی احتسابی سیستم د بری لپاره کلیدی اهمیت لری چی خلکو ته اجازه ورکوی د حکومت پرضد خپلی دعواوی وړاندی کړی.

د قانونی احتساب په میکانیزم کی دغه عناصر شامل وی:

قانونی کړنلاره او د رسمی مقاماتو لپاره د یو طرز العمل موجودیت چی هغه کارونه په ګوته کړی چی د منلو وړ نه وی.

د ګټو تضاد او داسی قوانین چی مالی مسائل روښانه کړی او د رسمی مقاماتو نه وغواړی چی خپلی عایداتی سرچینی په ګوته کړی ترڅو خلک دا قضاوت وکړای شی چی ایا ددغو مسئولو

مقاماتو پر کارونو ښائی مالی ګټو اغیزه کړی وی او یا نه.

داسی قوانین "د لمر ځلیدل" چی خلکو او مطبوعاتو ته د حکومت د ریکاردونو او ملاقاتونو په هکله معلومات ورکړی.

د خلکو د ګډون اړتیا، پدی ډول چی د حکومت په یو شمیر مشخصو فیصلو کی باید د خلکو نظر واخستل شی او. قضائی څیړنه، چی محاکمو ته دا صلاحیت ورکوی چی د رسمی مامورینو او ادارو په فیصلو او اقداماتو له سره غور وکړی.

د اداری احتساب میکانیزم هغه دفترونه دی چی د ادارو او یا وزارتونو په تشکیل کی جوړیږی او د اداری پروسی په مینځ کی کار کوی چی هدف ئی دا وی چی اطمینان حاصل کړای شی چی د رسمی مامورینو اقدامات او فیصلی د خلکو په ګټه دی که نه.

د اداری احتساب په میکانیزم کی دغه مواد شامل دی:

د څیړونکو اداره، چې د خلکو د شکایاتو د اوریدو او حل کولو مسئولیت ورپه غاړه وی.

د تفتیش اداره، چې ددی څیړنه وکړی چې رسمی بودجه په ناوړه توګه و نه کارول شی.

اداری محکمی، چې د دفترونو د اجرااتو په هکله د خلکو شکایات واوری.

اخلاقی مقررات، چې د په اصطلاح افشا کونکی. هغوی چې په حکومت کی کار کوی او د رشوت او له صلاحیت نه د ناوړه ګټی اخستنی پرضد موارد په ګوته کوی د مقاماتو له غبرګون نه وساتی.

## ازاد او عادلانه انتخابات

ازاد او عادلانه انتخابات هغو خلکو ته چې په یوه نماینده دموکراسي کې ژوند کوي اجازه ورکوي چې د خپل هیواد د سیاسي جوړښت او د راتلونکي سیاسي کړنلارې په هکله تصمیم ونیسي.

ازاد او عادلانه انتخابات د واک د سوله ایزې لیږدوني امکانات زیاتوي. دغه انتخابات داسې یو ډاډ رامینځته کوي چې بایلوونکي کاندیدان د انتخاباتو نتیجې ومني او نوې حکومت ته واک وسپاري.

یواځې انتخابات دموکراسي نشي تامینولای ځکه کیدای شي دیکتاتوران له دولتي منابعو نه پکار اخستلو سره په انتخاباتو کې درغلي وکړي.

ازاد او عادلانه انتخابات د لاندی شرطونو غوښتنه کوی:

ټولو مستحقو نارینه او ښځو ته د رائی ورکولو حق – په دموکراسی کی باید لږه کی او یا معیوبین له دی حق نه محرومه نشی او یا دا چی دا حق یواځی د با سواده او جاګیرداره خلکو ندی.

د رای ورکونکی یا د یو رسمی مقام لپاره د کاندید په صفت د نوم ثبتولو ازادی.

د کاندیدانو او سیاسی ګوندونو لپاره د وینا ازادی – دموکراسی کاندیدان او سیاسی ګوندونه د موجوده حکومت د کارونو له غندلو نه نه منع کوی.

د رای ورکونکو لپاره د ازادو مطبوعاتو له لاری د بی طرفو معلوماتو برابرول، د سیاسی ټولنو او کمپاین کولو ازادی.

داسی مقررات چی د ګوندونو له استازو نه غوښتنه کوی چی د انتخاباتو په ورځ له انتخاباتی مرکزونو څخه ځان ګوښه وساتی – د انتخاباتو مسؤلین، داوطلبان او نړیوال څارونکی کولای شی له خلکو سره په رایه ورکولو کی مرسته وکړی خو د هغوی په انتخاب کی د مداخلی حق نلری.

داسی یو بی طرفه یا متوازن سیستم چی انتخابات په لاره واچوی او نتایج ئی تایید کړی.

د انتخاباتو روزل شوی مسؤلین باید په سیاسی توګه مستقل وی او یا هغه کسان چی د انتخاباتو څارنه کوی باید د ټولو هغو ګوندونو استازی وی چی په انتخاباتو کی ګډون لری.

د انتخاباتو مراکزو ته رسیدل، د محرمانه رایی ورکولو ځای، د رای ورکولو محفوظ صندوقونه او د رایو د شمیرلو شفافه طریقه.

پټه رایه ورکول – په پټه توګه رایه ورکول ددی باعث کیږی چی د رایه ورکونکی انتخاب د هغه پرضد و نه کارول شی.

په انتخاباتو کی درغلی – داسی منع کونکی قوانین باید وجود ولری چی په انتخاباتو کی له درغلیونه مخنیوی وکړی (لکه دوه ځلی رایه ورکول یا بی نفره رایه ورکول...)

د بیا شمیرنی مقررات – داسی میکانیزم او قانونی مقررات باید وجود ولری چی د انتخاباتو په پروسه کره کتنه وکړی ترڅو ډاډ حاصل کړی چی انتخابات په سمه توګه ترسره شویدی.

د رای ورکولو طریقه – دغه طریقه چی په یو هیواد کی تر بله هیواده توپیر لری او ان په یو هیواد کی هم فرق لری په دغو مواردو مشتمله ده:

**د رائی ورکولو پاڼه – د رائی پاڼه په نښه کړای شی او یا ئی کاغذ سوری کړای شی.**

**د رائی په پاڼه کی باید د کاندید او یا د ګوند سمبول او عکس موجود وی چی بی سواده کاندیدان وکولای شی په اسانی سره سمه رایه ورکړی.**

**برقی سیستم – رای ورکونکی به د تماس له هندارو او یا د توکمو د وهلو له ماشینونو څخه کار اخلی.**

**غیابی رایه ورکول – هغه کسان چی نشی کولای د انتخاباتو په ورځ رایه ورکړی له انتخاباتو نه مخکی د رائی ورکولو اجازه ولری.**

## د مذهب ازادی

ټول اتباع باید دا ازادی ولري چې د مذهب په برخه کې له خپل وجدان نه متابعت وکړي. د مذهب په ازادی کې په ګډېنیزه او یا ټولنیزه توګه د عبادت حق، په ښکاره او یا خصوصي توګه عبادت کولو حق او دا حق شامل دی چې خلک وکولای شي بې لدې چې د حکومت او یا نورو ډلو لخوا د تعقیب ویره ورسره وي په مذهبي مراسمو، فعالیتونو او یا تدریس کې برخه واخلي.

ټول خلک دا حق لري چې د خپلې عقیدې مطابق عبادت وکړي او د هغو په اساس غونډه وکړي او د همدې مقصد لپاره ځایونه جوړ او وساتي.

لکه د نورو اساسي بشري حقوقو په شان، مذهبي ازادی د حکومت لخوا نه جوړېږي او نه ورکول

کیږي خو ټول دولتونه مکلف دي چې دغه حقوق وساتي. په دموکراسیو کې په اساسي قوانینو کې د داسې عباراتو شاملول لازم دي چې مذهبي ازادي وساتي.

که څه هم یو زیات شمیر دموکراسۍ غواړي چې په رسمي توګه مذهب او دولت سره جلا کړي خو د مذهب او حکومت د ارزښتونو ترمینځ کوم اساسي تضاد نه لیدل کیږي.

په دموکراسۍ کې حکومتي اداري یا نور رسمي مقامات معمولاً پدې موٌظف ندي چې مذهبي چاري تنظیم کړي که څه هم حکومتونه ښائي د مالیې د ورکولو او یا اداري مقاصدو په خاطر د عبادت ځایونه او یا مذهبي ډلې ثبت کړي.

هغه حکومتونه چې د خپلو خلکو مذهبي ازادي ساتي ښائي د بیان د ازادۍ او یا د ټولنو د

ازادی په شان د خپلو خلکو له نورو حقوقو څخه هم ساتنه وکړی.

ربنتینی دموکراسی پدی پوهیږی چی د خلکو بیلابیلو مذهبی حقوقو ته باید درناوی وشی او د حکومت اساسی نقش باید دا وی چی د خلکو مذهبی حقوق حتی په هغه وخت کی چی حکومت په یو خاص مذهبی ګروپ بندیز ولګوی وساتی. په دموکراسی ولاړ حکومت کی همداراز:

حکومت د مذهبی نشریاتو، تعلیماتو او خطبو متن نه جوړوی.

حکومت د مور او پلار د هغو حقوقو ساتنه کوی چی غواړی خپلو اولادونو ته مذهبی تعلیمات ورکړی.

حکومت د نورو پرضد د هغه تشدد مخنیوی کوی چی په مذهب ولاړ وی.

د قومی، مذهبی او ژبنیو لږکیو ساتنه کوی.

خلکو ته اجازه ورکوي چې له خپلو مذهبي رخصتیو څخه ګټه واخلي او مذهبي ورځې ونمانځي.

د مذاهبو ترمینځ ګډو خوزښتونو ته اجازه ورکوي چې د بیلابیلو مذاهبو غړي د مختلفو موضوعاتو په هکله یو ګډ موقف ونیسي او د هغو ستونزو د هوارولو په خاطر سره همکاري وکړي چې ټول ولس ورسره مخ وي.

دموکراسي، حکومت، مذهبي مقاماتو، غیر حکومتي مؤسسو او خبریالانو ته اجازه ورکوي چې د مذهب له امله د تعقیب او ازار پیښې وڅیړي.

د مذهبي سازمانونو د حقوقو درناوي وکړي چې په ازاده توګه په مدني ټولني کې ګډون وکړي او په مذهب ولاړ ښونځي جوړ کړي، روغتونونه او د بوډاګانو د ساتنې مرکزونه وچلوي، او نور داسي

**پروګرامونه او فعالیتونه جوړ کړی چې ټولنی تری ګټه رسوی.**

## د ښځو او نجونو حق

د ښځو پرضد توپیر پدی معنی دی چی یو شمیر خاص قوانین یا پالیسی د جنس په اساس توپیر، محرومیت او یا محدودیت رامینځته کوی.

دموکراسی باید هڅه وکړی چی د ښځو حقوق وساتی، په حکومت او د ټولنی په ټولو برخو کی د ښځو ګډون وهڅوی او د ښځو لپاره داسی ځایونه جوړ کړی چی هغوی وکولای شی په ازاده توګه راغونډی شی او خپل نظریات په ښکاره توګه بیان کړای شی.

د ښځو په قانونی حقوقو کی د قانون په اساس د ښځو برابر استازیتوب او ټولو قانونی منابعو ته د ښځو رسیدل شامل دی.

د ښځو حقوقو باید په ښکاره توګه بیان کړای شي. د ښځو د حقوقو په هکله ابهام په ټوله نړۍ کې د فقر او بې وزلۍ ستر لامل ګڼل کیږي.

ښځې باید د ملکیت او میراث حق ولري.

ښځو ته باید دا زمینه برابره شي چې د اساسي قانون او نورو لوائحو په جوړولو او پلي کولو کې برخه واخلي.

د ښځو په سیاسي حقوقو کې دغه حقونه شامل دي: د رائې ورکولو حق، د کاندیدلو حق، په حکومت کې د ګډون حق، او د سیاسي تنظیم حق.

دموکراسي باید د مدني ټولنې نوښتونه وهڅوي – رسمي او غیر حکومتي مؤسسې باید ښځو ته دا وښیي چې څرنګه رایه ورکړي او هغوی د سیاسي کمپاین د تاکتیکونو او د قانوني مراحلو د بشپړولو په هکله وروزي.

**د ټولنې په ټولو برخو کې د ښځو فعالیدل او په حکومت کې د هغوی برخه د دموکراسی د ټینګښت سبب کیږی.**

**ښځې او نجونې باید له لومړینو زده کړو نه برخمنې وی. هغوی باید په منځنیو ښوونځیو او یا پوهنتونونو کې له درس ویلو او یا درس ورکولو څخه منع نکړای شی.**

**ښځو ته د اقتصادی حقوقو ورکول هغوی ته په خپلو ملکیتونو کنټرول ور په برخه کوی او له هغوی سره مرسته کوی چې له خطر ناکه او ناوړه ګټې لپاره د جنسی اړیکو مخه ونیسی. دغه حقوق دا دی:**

**له نارینه وو سره د دندې برابر فرصتونه**

**د حمل او یا واده په خاطر له وظیفې نه د هغوی د بر طرفی مخنیوی.**

په هغو پروګرامونو کې د هغوی ګډون چې د هغوی عایداتی منابع زیاتی کړی لکه د وړو پورونو پروګرام او د حرفوی روزنو پروګرام.

په کار کې برابر معاش، برابر درناوی او برابر چال چلند.

دموکراسی باید هڅه وکړی چې د ښځو او نجونو روغتیا او هوساینه تضمین کړی او په لاندی مواردو کې ورته د نارینه وو سره برابر حقوق ورکړی:

عام روغتیائی مواظبت، له ناروغیو نه ساتنه او د ماشوم له زیږیدونه مخکی د مور ساتنه.

له ایدز نه د هغوی ساتنه، د اختته ښځو د روغتیا په ساتلو کې ښه والی او له مور نه ماشوم ته ددغی ناروغی په لیږدیدو کې کموالی.

د هغو قاچاق وړونکو سره مبارزه چې ښځی او ماشومان په زور سره بدلمنی ته مجبوروی او یا

ئی د چل ول، جعل کاری او یا نورو لارو نه په داخل کی په اجباری کار ګماری.

په اصطلاح د جنسی سیاحت سره مبارزه چی معمولاً له ښځو او ماشومانو نه ناوړه ګټه اخلی.

په کم عمر کی د واده کولو د روغتیائی او ټولنیزو عواقبو نه د کورنیو خبرول.

د جنسی تجاوز او کورنی تشدد ضد د مرکزونو جوړول او د قربانیانو حمایت.

د کورنی تشدد د کمولو په خاطر د پولیسو، وکیلانو، قاضیانو او د روغتیائی پرسونل روزل.

د ښځو له شنډولو نه مخنیوی.

## د اتحادونو او جوړجاړی له لاری اداره کول

په هره ټولنه کی بیلابیلی ډلی اوسیږی چی د هغو مسائلو په هکله چی ټول اتباعو ته مهم وی بیلابیل نظریات لری. یوه ازاده دموکراسی دا د ملت په ګټه ګڼی او لدی امله د بیلابیلو نظریاتو په مقابل کی د زغم ملاتړ کوی.

دموکراتیک حکومتونه هغه وخت بریالی کیږی چی سیاستمداران او رسمی مقامات ئی پوهیږی چی په کړکیچنو مسئلو کی ډیر لږ داسی پیښیږی چی څوک ورته د "سم یا ناسم" په نامه د حل لاره پیدا کړی او د کورنیو اصولو او یا ټولنیزو اولویتونو په هکله بیلابیل تعبیرونه تل وجود لری.

د مطبوعاتو او ټولنو ازادی ددغه ډول بحثونو او د نظریاتو د تبادلی سبب کیږی. ددغه ډول بحثونو پیل حکومت ته موقع ورکوی چی

ستونزی پیدا کړی او ډلو ته اجازه ورکړی چی پخپلو کی سره کینی او اختلافات حل کړی. (په خصوصی اقتصادی سکتوری کی همدغه د نظریاتو تبادله د نوښتونو او پانګی اچونی سبب کیږی چی د اقتصادی پرمختګ ماشین بلل کیږی.)

کله چی د بیلابیلو ډلو او سیاسی ګوندونو ګټی د یو شمیر مسائلو په هکله شریکی شی بیا نو که څه هم هغوی د نورو مسائلو په هکله ژور اختلافات ولری سره ائتلافونه جوړوی، د مهمو مسائلو په هکله جوړجاړی له حکومت سره د چارو په سمون کی مرسته کوی.

په دموکراسی کی قانون جوړونکی اداری د ائتلافونو له لاری قوانین تصویبوی.

په پارلماني سیستم کې سیاسي ګوندونه له نورو ډلو سره د یو ځای کیدو له لارې خپلو ګټو ته وده ورکوي او حکومت جوړوي.

په ریاستي سیستم کې کله ناکله استازي د خپل ګوند ملاتړ پریږدي او د یو شمیر موضوعاتو په هکله چې د انتخاباتي حوزې خلکو ته ئې مهمې وي مخالفه رایه ورکوي.

په ائتلافونو کې معمولاً دا ضروري وي چې یو سیاسي ګوند دې ته راضي شي چې د خپلې اجندا د مهمو برخو د لاس ته راوړلو په خاطر له نورو ډلو سره له خپلو یو شمیر اختلافاتو نه تیر شي.

لدې امله چې په ائتلافي حکومتونو کې د متضادو فکرونو لرونکې ډلې شاملې وي معمولاً پکې د حکومت د ړنګیدو چانس موجود وي. په ځینو دموکراسیو کې د واکمن ائتلاف لپاره دا یو

**عادي خبره وي چې حتی په یو کال کې شو ځلې ائتلاف وکړي او بیا ئې بیرته ړنګ کړي.**

## د غیر حکومتی مؤسسو نقش

په دموکراسی کی عادی اتباع بنائی مستقلی ډلی جوړی کړی چی د خپلی ټولنی او یا ولس اړتیاوی پوره کړی، د حکومت له کارونو سره مرسته وکړی، هغه بشپړ کړی او یا هغه چلنج کړی. دغه ډول ډلو ته معمولاً غیر حکومتی سازمانونه یا NGO وائی ځکه هغوی دحکومتی ادارو برخه ندی.

غیر حکومتی مؤسسی خلکو ته موقع ورکوی چی خپلو ټولنو ته د پوهنی، ملاتړ، مهمو مسائلو ته د پاملرنی او د حکومت او خصوصی سکتور پر کارونو د نظارت له لاری د پرمختګ زمینه برابره کړی.

غیر حکومتی مؤسسی د مختلفو افکارو اتباع پدی توانوی چی د یو ځای کار کولو هنر زده کړی او

د ښه حکومت د جوړولو په خاطر لازم مهارتونه زده کړی او اړیکی جوړی کړی.

غیر حکومتی مؤسسی د ډیرو مختلفو ډلو د ګټو لپاره کاری کوی. ښائی دوی ټولنیز خدمات وکړی یا د چاپیریال نه دفاع وکړی، یا د ژوند د سطحی د لوړلو لپاره، یا د کار د ستندرد د لوړولو لپاره هلی ځلی وکړی او یا هم د دموکراتیکو اصلاحاتو د راوړلو په خاطر د یوی وسیلی په توګه فعالیت وکړی.

غیر حکومتی مؤسسی معمولاً د داسی ډلو له ګټو نه استازی توب کوی چی که دوی تری دفاع ونکړی نو هغوی به په رسمی پالیسیو باندی له بحث نه محرومی پاتی شی. هغوی د ټولو اقتصادی او ټولنیزو مسٔلو په هکله د خلکو ترمینځ د مفاهمی باب پرانیزی چی په هغو کی ښځی او لږه ګی هم شامل دی.

د غیر حکومتی مؤسسو مالی بودجه ښائی د شخصی مرستو، د مرستو صندوقونو، فابریکو، مذهبی ادارو، نړیوالو سازمانونو، نورو غیر حکومتی سازمانونو، د مالونو خرڅولو، خدماتو او حتی د حکومتونو لخوا تامین شی.

دیر ځلی حکومتونه او غیر حکومتی مؤسسی په شریکه کار کوی. غیر حکومتی مؤسسی ښائی د حکومتی پروژو د پلی کولو په خاطر په محلی یا سیمه ایزه سطحه د کار پوهو کسانو په پیدا کولو کی مرسته وکړی.

غیر حکومتی مؤسسه بنائی په سیاسی توګه بی طرفه وی او یا په ګوندی نظریاتو متکی وی ترڅو وکولای شی د یو مشخص هدف یا د اهدافو د لاس ته راوړلو په خاطر کار وکړی چی د عامو خلکو ګټه پکی نښتی وی. اصلی شکل ئی دا دی چی یوه غیر حکومتی مؤسسه باید ډیره لږه د حکومتونو تر سیاسی کنترول لاندی راشی.

غیر حکومتی مؤسسی تقریباً په ټولو هغو ساحو کی محلی او نړیوال پروګرامونه پرمخ بیائی چی د دموکراسی د اساسی اصولو له پرمختګ سره مرسته کوی چی په هغوی کی دغه موارد شامل دی:

بشری حقوق- د نړیوالو معیارونو د لاس ته راوړلو په خاطر مبارزه کوی او د تیریو او ناوړه ګټی اخیستنی نظارت کوی.

د قانون حاکمیت – د ډیر کم مصرفه او یا وړیا قانوني خدمتونو له لاری خلکو ته خپل حقوق ورښی او یا د قانوني اصلاحاتو په خاطر مبارزه کوی.

د ښځو ګډون – خلکو ته داسی تعلیمات ورکوی چی په یوه دموکراتیکه او ګڼ اړخه ټولنه کی د هغوی حقوق ورته په ګوته کوی.

ازاد مطبوعات – ازاد مطبوعات د خبریالانو د روزني او د ژورنالیزم د اخلاقی معیارونو په وضع کولو سره تقویه کوی.

د سیاسی ګوندونو پرمختګ – د روزل شویو کورنیو څارونکو او د رائی ورکونکو د بی طرفانه نوم لیکني په وسیله د پروسی سره مرسته کوی.

د حکومت احتساب – د پالیسیو په څیړلو او د حکومت د کارونو په څارلو سره حکومت د ځواب ورکولو لوری ته راکاږی.

## پوهنه او دموکراسی

پوهنه یا تعلیم یو عام بشری حق دی. دغه حق همدراز د نورو بشری حقوقو د لاس ته راوړلو وسیله ده او دا د اقتصادی او ټولنیز واکمن کیدو وسیله ده. د بشری حقوقو د نړیوالی اعلامیی په اساس د نړی هیوادونو پدی موافقه وکړه چی پوهنه یا تعلیم د هر چا حق دی.

هره ټولنه خپل عادات، ټولنیز معیارونه، فرهنګ او نظریات له یو نسل نه بل نسل ته لیږدوی.

د پوهنی او دموکراتیکو ارزښتونو ترمینځ مستقیم تړاو وجود لری: په دموکراتیکو ټولنو کی تعلیمی متنونه او کارونه د دموکراتیک حکومت عادات تقویه کوی.

دغه تعلیمی لیږدونی په دموکراسی کی ډیر اهمیت لری ځکه اغیزمنه دموکراسی تل منطقی

وی او دحکومت داسی یوی بنې ته پراختیا ورکوی چی له خلکو نه د ازاد تفکر غوښتنه کوی.

د مثبتو سیاسی او ټولنیزو بدلونونو کلی د خلکو په لاس کی ده. حکومت باید له تعلیم نه د معلوماتو د کنترول او پر زده کونکو د خپلو افکار د تحمیل د وسیلی په توګه کار وانخلی.

حکومت باید تعلیم ته داسی ارزښت ورکړی او منابع ورته اختصاص کړی لکه چی هڅه کوی له خپلو خلکو نه دفاع کوی.

سواد خلکو ته دا توان ورکوی چی‌د کتابونو او اخبارونو له لاری ځانونه په هر څه خبر کړی. معلومات لرونکی خلک په ښه توګه کولای شی خپلو دموکراسیو ته وده ورکړی.

په دموکراسی کی تعلیمی سیستم د نورو سیاسی نظریاتو او یا نورو حکومتی سیستمونو په هکله

زده کړه له یاده نه باسي. په دموکراسی کی زده کونکی هڅوی چی له تاریخ نه په ښکاره پوهی سره د دقیقو څیړنو په اساس معقول دلایلو ته وده ورکړی.

شخصي او مذهبی ډلی باید ددی ازادی ولری چی ښونځی جوړ کړی او والدین باید ددی اجازه ولری چی خپلو ماشومانو ته په کور کی درس ورکړی.

د حکومتي ښونځیو دروازې باید بې لدې چې د چا نژادي، مذهبي، جنسي او یا بدني ځانګړتیاوې په پام کې ونیول شي د ټولو پرمخ خلاصې وي.

دموکراتیک اصول او کارونه باید خلکو ته وښودل شي ترڅو خلک د ازادو اتباعو په توګه په خپلو مسؤلیتونو پوه شي او د هغو درناوې وکړي.

په دموکراسي کې د خلکو لپاره ضروري ده چې د هیواد او نړۍ د تاریخ او د دموکراسي د اساسي اصولو په هکله پوهه ولري.

په دموکراسي کې تعلیمي نصاب په تاریخ، جغرافیه، اقتصاد، ادبیاتو، فلسفه، حقوق، هنر، ټولنیزو مطالعاتو، ریاضیات، ساینس شامل وي چې د نجونو او هلکانو لپاره وي.

زده کونکی باید ددی ازادی ولری چې د کلوپونو او فعالیتونو له لارې دموکرایتک اصول عملی کړی. د مثال په توګه:

د زده کونکو حکومت جوړول هغوی ته د دموکراتیکی پروسی په هکلی معلومات ورکوی.

نمونه وی او ساختګی انتخابات زده کونکو ته د خلکو د ګډون او د رای ورکولو د عادت په هکله زده کړه ورکوی او هغوی په خپل راتلونکی ژوند کی دی کار ته هڅوی.

د ښونځی اخبار هغوی ته په ټولنه کی د مطبوعاتو د نقش او د مسؤلانه ژورنالیزم اهمیت ورپه ګوته کوی.

مدنی کلوپونه د سترو ټولنو سره د هغوی اړیکو ته پراختیا ورکوی.